

# د طالبانو په عدلي او قضايي نظام کې عدالت ته د لاسرسي وضعیت

جون ۲۰۲۳

رواداری
RAWADARI

روادارى
RAWADARI

روادارۍ یو خپلواک او بې پرې بنسټ دی چې پر بشر حقونو د څارنې، په افغانستان کې د بشر حقونو د کلتور د پراختیا، حساب ورکوونې، او د قربانۍ محوره عدالت د کلتور د تامینولو په موخه رامنځته شوی. دا بنسټ د بې پرېتوب د اصل په بشپړ رعایت او د بشر حقونو اړوندو ټولو منل شویو نړیوالو اصولو او معیارونو ته په درنښت، خپلې چارې پر مخ وړي، چې دغه راپور هم په همدې موخه د بشر حقونو د سرغړونې پېښې، څرنګه چې پېښې شوې دي، په ریښتینولۍ سره خپروي.

# د مطالبو لړ لیک


| | |
|---|---|
| سریزه | ٤ |
| د تحقیق او معلوماتو راټولولو کړنلاره | ٥ |
| لومړی برخه- د طالبانو د محکمو تشکیلاتي جوړښت او سلسله مراتب | ٧ |
| الف- عمومي او عادي محکمې | ٧ |
| د تمیز محکمې | ٨ |
| مرافعه محکمې | ٨ |
| ابتدائیه محکمې | ٨ |
| ب- اختصاصي محاکم | ٨ |
| اختصاصي نظامي محاکم | ٨ |
| د احتساب اختصاصي محکمه په بېلابېلو ولایتونو کې د محکمو متفاوت تشکیلات | ٩ |
| د قاضیانو د زده کړو کچه | ٩ |
| دویمه برخه- د افغانستان د عدلي، قضایي او حقوقي نظام سقوط | ١١ |
| • د مخکني حکومت د عدلي او قاضیي بنسټونو د مسلکي کارکوونکو گوښه کول | ١٢ |
| • د اختصاصي محکمو او څارنوالیو له منځه وړل | ١٢ |
| • د قوانینو لغوه کول | ١٣ |
| • د جزايي اجراتو له پروسې څخه د تحقیق د مرحلې حذفول | ١٣ |
| • حقوقي قضیو ته په رسېدنه کې د یو ډول رویې نشتوالی | ١٤ |
| • د غیر مسئولو مراجعو او ارگانونو له خوا د قضايي واکونو اعمال | ١٤ |
| درېیمه برخه- د عادلانه محاکمې د اصولو نقض او عدالت ته د لاسرسي وضعیت | ١٦ |
| د طالبانو د محکمو او قاضیانو توپیري چلند | ١٧ |
| • ښځو سره توپیري چلند | ١٧ |
| • له شیعانو سره توپیري چلند | ١٩ |
| له شکنجه او له تورن څخه په زوره اعتراف اخیستل | ٢٠ |
| خپلسری او غیر قانوني توقیف | ٢٢ |
| شخصي زندانونه | ٢٢ |
| د ذمې برائت د اصل نقض | ٢٣ |
| د قاضیانو او محکمو د بې پرې والي او خپلواکي نشتوالی | ٢٤ |
| جزايي او حقوقي قضیو ته په رسېدنه کې نه توجیه کیدونکی ځنډ | ٢٥ |
| مدافع وکیل ته د لاسرسي نشتوالی | ٢٥ |
| له مدافع وکیلانو سره بد چلند | ٢٦ |
| پر پرېکړې او د حکم په صادرولو د حاکمو اصولو نقض | ٢٦ |
| د غیر انساني او ظالمانه مجازاتو تطبیق | ٢٧ |
| څلورمه برخه- پایله او وړاندیزونه | ٢٨ |
| وړاندیزونه | ٢٩ |
| ماخذونه | ٣٠ |

# سریزه

په ۲۰۱۲ کال کې واک ته د طالبانو د بیا راګرځېدو سره سم د افغانستان عدلي او قضايي نظام له منځه لاړ. طالبانو د دوی په وینا د «اسلامي امارت» د رامنځته کولو لپاره مخکني قوانین لغوه کړل، د محاکمو، څارنوالی او عدلیې وزارت مسلکي کارکوونکي یې په ډله ییزه توګه له دندو لرې کړل او د خپلې خوښې وړ افراد یې چې ډېری یې د دیني مدرسو فارغان دي، په دې بنسټونو کې ځای پر ځای کړل. د مخکنیو قوانینو، په ځانګړې ډول د قضايي اجراتو د څارونکو قوانینو له لغوه کولو سره دا مهال د عدلي او قضايي بنسټونو د واکونو او صلاحیتونو د ټاکلو لپاره هیڅ اغېزناک حقوقي معیار او میکانیزم نشته. دا هغه مساله ده چې د پراخې ګډوډۍ، هرج و مرج، د عادلانه محاکمې د اصولو د نقض او په پایله کې د بشر حقونو د نقض لامل شوې. که څه هم، طالبانو «د محکمو اداري اصولنامه»، «د محکمو لایحه» او «د حقونو د ترلاسه کولو د طرز او طریقې قانون»[1] د خپلو محکمو په واک کې ورکړي؛ خو دغه اسناد شته ستونزو ته ځواب نشي ویلی، او هیڅکله نشي کولی د عدلي او قضايي بنسټونو اړوند چارې تنظیم کړي.

د محاکمو قاضیان چې ټول د دیني مدرسو فارغ التحصیلان یا برحاله زده کوونکي دي، له قضايي پوهې او د عادلانه محاکمې له موازینو سره نابلده دي. په همدې دلیل، شکنجه او له تورن څخه د اجباري اعترافاتو اخیستل د طالبانو په عدلي او قضايي نظام کې د جرم د اثبات د یواځنۍ وسیلې او ابزار په توګه کارول کیږي.


د رواداری موندنې ښیي چې د طالبانو په عدلي او قضايي نظام کې د عادلانه محاکمې موازین په پراخ ډول نقض کیږي او په ځانګړي ډول ښځې او مذهبي لږکي عدالت ته په لاسرسي کې له جدي ننګونو او ستونزو سره مخامخ دي. د طالبانو قاضیان او محکمې جزايي او حقوقي دوسیو ته په رسیدنه کې له سنتي لارو چارو او بېلابېلو رویو څخه استفاده کوي. داسې چې یوې مشخصې جزايي یا حقوقي قضیې ته د رسېدنې رویه له یوې محکمې تر بلې او له یو ولایت څخه تر بل ولایته بشپړ توپیر لري. له بل پلوه، د ترلاسه شویو معلوماتو پر بنسټ، نږدې په تېرو دوو کلونو موده کې، د طالبانو د محکمو او قاضیانو د توپیري چلند له امله د تاوتریخوالي قرباني ښځې عدالت ته په لاسرسي کې د پراخو ننګونو او لا سختو محدودیتونو سره مخامخې دي.

بد چلند او د شکنجې او ربړونې بېلابېلې بڼې، د افرادو خپلسرې او غیر قانوني نیونې، په ټول هیواد کې د شخصي زندانونو شتون، اداري فساد، د غیر مسئولو بنسټونو او مراجعو له خوا د جزايي قضیو حل و فصل او د محکمو د استقلالیت او بې پرېوالي نشتوالی هغه خورا مهمې ننګونې او ستونزې دي چې دا مهال د طالبانو تر کنټرول لاندې عدلي او قضايي بنسټونو کې شته.

۱ د محکمو اداري اصولنامه په ۲۰۱٤ کال کې، د محکمو لایحه په ۲۰۱۸ کال کې او د حقونو د ترلاسه کولو د طرز او طریقې قانون په ۲۰۲۳ کې خپاره شوي دي.

# د څېړنې او د معلوماتو د راټولولو کړنلاره

رواداري د طالبانو د عدلي او قضايي نظام د فعاليت او هم عدالت ته د افغانستان د خلکو د لاسرسي د وضعيت د يو دقيق او روښانه تصوير وړاندې کولو په موخه دغه راپور خپروي. په دغه راپور کې راغلي معلومات او موندنې د طالبانو د عدلي او قضايي بنسټونو پر کړنو باندې د ۲۰۲۱ د اگست د ۱۵ نېټې څخه تر ۲۰۲۳ جون مياشتې پورې رانغاړي، او رواداری د ۲۰۲۳ کال لومړنيو پنځه مياشتو کې د هيواد په ۲۶ ولايتونو[۲] کې، د ۱۴۱ مدافع وکيلانو، څارنوالانو، د محاکمو د اداري کارکوونکو، د بشري حقونو مدافعينو، قربانيانو او د ځينو پخوانيو قاضيانو سره مصاحبې ترسره کړې دي. همدا راز، په دغه راپور کې د راغليو معلوماتو بله سرچينه د طالبانو د عدلي او قضايي بنسټونو د فعاليت اصول نامې، لوايح او نور اړوند اسناد دي چې «د محکمو عالي ادارې»[۳] له خوا رامنځته شوي دي.




د بشر حقونو له بين المللي اسنادو او د رواداری له مخکنيو راپورنو څخه، چې په افغانستان کې د بشر حقونو د بېلابېلو موضوعاتو اړوند خپاره شوي، هم په دې راپور کې گټه پورته شوې.

رواداري تاکيد کوي چې د امنيتي گواښونو، د عدلي او قضايي بنسټونو د فعاليت اړوند د اطلاعاتو د کنټرول په موخه د سختو محدوديتونو وضعه کول او په ځانگړې ډول د آزادی د سلب ځايونو ته د لاسرسي نشتوالی او په دې برخه کې د معلوماتو راټولول سخت او له ننگونو ډک کار و. خو رواداري په تېرو شاوخوا دوه کلونو کې عدالت ته د هيوادوالو د لاسرسي د وضعيت پرله پسې څارنې او د شته سرچينو او امکاناتو په کارولو، چې د هيواد په داخل کې يې لري، توانېدلی چې د دې راپور لپاره اړين او پام وړ معلومات لاسته راوړي. د يادونې وړ ده چې د امنيتي اندېښنو له امله په راوپور کې د هغو خلکو په اړه چې مرکې ورسره شوې دي او د سرچينو اړوند د ډېرو جزئياتو او معلوماتو له وړاندې کولو ډډه شوې، او په ځينو مواردو کې د قربانيانو د خونديتوب د ساتلو په موخه د نېټې او د بشرحقونو د نقض د ځينو پېښو د ځايونو له ذکر کولو هم ډډه شوې ده.

۲ کابل، ميدان وردگ، غزني، هرات، فراه، بادغيس، نيمروز، غور، کندهار، هلمند، زابل، ارزگان، دايکندی، باميان، پنجشېر، پکتيا، پکتيکا، خوست، کنړ، ننگرهار، بلخ، بغلان، فارياب، جوزجان، بدخشان او کندوز.

۳ طالبانو د قضايه قوې نوم له «سترې محکمې» څخه «د محکمو عالي ادارې» باندې بدل کړی دی.




انځورګر: فاطمه وجوهات

# ۱

# د طالبانو د محکمو تشکیلاتي جوړښت
# او د مراتبو سلسله

طالبانو د قضائیه قوې تشکیلاتي جوړښت «د محاکمو لایحې» پر بنسټ، د «سترې محکمې» د نوم په بدلون سره «د محاکمو عالي ادارې» ته ټاکلی. دا تشکیلاتي جوړښت د افغانستان اسلامي جمهوري دولت پر مهال او د طالبانو تر کنټرول لاندې سیمو کې هم فعال و، چې اوس د قضائیه قوې په تشکیل کې ځای پر ځای شوی. البته په عمل کې، یو ډول او مشخص تشکیل نشته، او محکمې د تشکیلاتو، دندو او واکونو په لحاظ په بېلابېلو ولایتونو کې متفاوتې دي. پر همدې بنسټ، هغه معلومات چې په دې راپور کې به یې ولولئ، د محاکمو د لایحې او معتبرو سیمه ییزو سرچینو څخه په لاس راغلي دي.




انځور: صدای غږ او AFP

## الف- عمومي او عادي محاکم

عمومي او عادي محاکم په دریو برخو، تمیز، مرافعه او ابتدائیه کې فعالې شوې دي، چې عمومي او عادي مدني او حقوقي جرایمو ته د رسېدنې مسئولیت پر غاړه لري.

### ۱. د تمیز محکمې

د تمیز محکمې چې په دوو ولایتونو کندهار او کابل کې رامنځته شوې دي د طالبانو د لوړې قضايي مرجع په توګه پېژندل کیږي. د کندهار ولایت د تمیز محکمه ۱۰ ولایتونه رانغاړي او ۲٤ نور ولایتونه د کابل په تمیز محکمې پورې اړوند دي. دا محکمه د ټیټو محکمو فیصلې تصحیح کوي، نقضوي، تعدیلوي او یا یې هم لغوه کوي. تمیز محکمې له رئیس، غړو او دوه برخو، تحقیق او اداري برخې څخه تشکیل شوې دي.




### ۲. مرافعه محکمې

دویمه قضايي مرجع، د سلسله مراتبو له لحاظه مرافعه محکمې دي، چې د ولایتونو په مرکزونو کې رامنځته شوې دي او څلور دیوانه لري، جزا، عامه امنیت، مدني او تجارت.

### ۳. ابتدائیه محکمې

ابتدائیه محکمې درې غړي (یو قاضي، یو مفتي او یو د قاضي محرر) لري، له ښاري محاکمو پرته، چې غړي یې په یو ولایت کې تر بل ولایته توپیر لري.

### ب- اختصاصي محکمې

طالبانو د مخکنیو اختصاصي محکمو په لغوه کولو، نوې اختصاصي محکمې رامنځته کړې دي، چې په کابل او یو شمېر ولایتونو کې فعالیت کوي.

### ۱. اختصاصي نظامي محکمې

نظامي اختصاصي محکمې په دوو برخو مرافعه او ابتدائیه کې په یو شمېر ولایتونو کې رامنځته شوې دي، چې د اسلامي امارت د ټولو منسوبینو اړوند قضیو ته رسیدنه کوي، دغه محکمو د طالبانو د حاکمیت په لمړیو کې آند د ځینوملکي ادارو د کارکونکو قضیو ته رسیدګي کول.

### ۲. د احتساب ځانګړې محکمه

طالبانو د داخلي او خارجي امنيت اړوند جرمونو سره د مبارزې ديوانونه لغوه کړي او د «احتساب» اختصاصي محکمې يې په يو شمېر ولايتونو کې رامنځته کړې دي چې مسئوليت يې «د مخکنی ملي اردو او ملي پوليسو د منسوبينو، جاسوسانو او د تېر حکومت طرفدارانو» اړوند تورونو ته رسېدنه ده[٤].

### په بېلابېلو ولايتونو کې د محکمو متفاوت تشکيلات

طالبان د خپلو محکمو لپاره يو ډول تشکيل نه لري، مثلاً د هيواد په ځينو سيمو له دي ډلي يې په هلمند ولايت کي دوه ډوله اختصاصي کميسيونونه رامنځته کړي. لومړی کميسيون د ولايت د والي له خوا رامنځته شوی او غير قضايي مسايلو ته رسېدنه کوي او دويم کميسيون د مرافعه محکمو له خوا د هلمند ولايت په مرکز کې رامنځته شوی چې معمولاً هغو دوسيو ته چې د جمهوريت له مهاله پاتې دي رسيدنه کوي. د دې کميسيون بل صلاحيت د مرافعه او ابتدائيه محاکمو اختلافاتو ته رسېدل او د وظيفوي تداخل له منځه وړل دي. په ميدان وردګ ولايت کې د شکايتونو يو کميسيون هغو دوسيو ته رسېدنه کوي چې په مخکني حکومت کې نه دي نهايي شوې؛ خو په دايکندي ولايت کې د قضايي معاونيت تر نامه لاندې دې دوسيو ته رسېدنه کيږي. همدا راز، په پکتيکا، پکتيا او خوست ولايتونو کې هغو دوسيو ته د رسېدنې لپاره اختصاصي محکمې رامنځته شوې دي چې په تېر حکومت کې نه وې نهايي شوې.

له بل پلوه، په يو شمېر ولايتونو کې طالبانو د فقهي شورا[٥] تر نامه لاندې بنسټ رامنځته کړی چې د مرافعه محاکمو تر امر لاندې فعاليت کوي او دنده يې د ملکي او نظامي ادارو د اړوندو قضيو هوارول دي.

### د طالبانو د قاضيانو د زدکړو کچه

د طالبانو د محاکمو مطلق اکثريت قاضيان او «مفتيان»[٦] د ديني مدرسو فارغين او زده کوونکي دي چې ډېری يې د پاکستان له ديني مدرسو څخه فارغ شوي دي او يا د دې مدرسو برحال زده کوونکي دي، يو شمېر افراد چې دا مهال د قضا په منصب دنده ترسره کوي، مخکې يې هم د جګړې پر مهال او د طالبانو تر کنټرول لاندې سيمو کې د قاضيانو په توګه کار کړی دي. د بېلګې په توګه، د غزني ولايت د مرافعه محکمې رئيس د جمهوريت پر مهال د طالبانو تر کنټرول لاندې په يوه کلي کې قاضي و. په دې منځ کې، کم شمېر قاضيان يې، لکه په هرات ولايت کې يو قاضي او په پنجشېر ولايت کې څو قاضيان رسمي لوړې زده کړې هم لري، چې د هيواد په پوهنتونونو کې يې د حقوقو او شرعياتو پوهنځي لوستي دي.

ترلاسه شوي معلومات ښيي، هغه کسان چې د قاضي په توګه کار کوي د معاصرو حقوقو له پوهې او په ځانګړي ډول د عادلانه محاکمې له اصولو سره آشنا نه دي، همدارنګه د قضا منصب ته د اشخاصو د جذب او انتصاب لپاره هيڅ مشخص ميکانيزم او طرزالعمل شتون نلري. له تخار او بغلان ولايتونو څخه سيمه ييزو سرچينو راپور ورکړی چې په دې ولايتونو کې د قاضيانو د استخدام تر ټولو مهم شرط د پاکستان له ديني مدرسو څخه د تحصيلي سند درلودل او د طالبانو په ډله کې د غړيتوب مخينه ده.

٤ د طالبانو اسلامي امارت، د محاکمو لايحه، ۲۰۱۸ کال، ۱ او ۷۵ مواد.

٥ دا شورا له ديني علماوو جوړه ده چې غړي يې مرافعه محکمې ټاکلي دي.

٦ په هره ابتدائيه محکمه او د مرافعه محاکمو په ديوانونو کې يو ديني عالم د مفتي په توګه استخدام شوی او په هغو قضيو کې چې په فقهي منابعو کې يې روښانه حکم نه وي، د فتوا په ورکولو سره قضيه هواروي.


مجلس
Fatima Wajohat
انځورگر: فاطمه وجوهات

# ۲

# د افغانستان د عدلي، قضايي او حقوقي نظام سقوط

که څه هم د افغانستان په اسلامي جمهوري دولت کې هم د عدالت د اجرا او د قانون د حاکمیت په برخه کې ننګونې موجودې وې او هیوادوالو د عدلي او قضايي بنسټونو له فعالیت څخه چندان رضایت نه درلود؛ خو د قانون جوړونې، اصلاح او د عدلي او قضايي دستګاه د موثریت په برخو کې د ارزښت ور لاسته راوړنې موجودې وې، چې له بده مرغه هغه ټولې لاسته راوړنې له منځه تللې دي. اوس له اسلام څخه سلیقوي برداشتونو د قوانینو ځای نیولی او محکمې د فتوا پر بنسټ حقوقي او جزايي قضیې هواروي. د راپور په دې برخه کې، د افغانستان د عدلي، قضايي او حقوقي نظام پر سقوط دلالت کوونکي موارد ذکر کوو.



انځور: د افغانستان تحلیلګرانو شبکه

### ۱. د مخکني حکومت د عدلي او قضايي بنسټونو د مسلکي کارکوونکو ګوښه کول


پر افغانستان د طالبانو له تسلط وروسته عدلي او قضايي بنسټونه له مسلکي او روزل شويو کادرونو څخه تصفیه شول. د ترلاسه شویو معلوماتو پر بنسټ په ټول هیواد کې د لويې ځارنوالی له بېلابېلو برخو د ۱۰۱٦ په شمېر مسلکي او اداري نارينه او ښځينه کارکوونکي او د ۲۰۰۰ په شمېر قاضيان ښځينه او نارينه له دندو ګوښه شوي.[۷]







هم مهاله، سلګونه تنه محرران او د محکمو اداري او مسلکي کارکوونکي او د عدليې وزارت حقوقي مساعدين هم عزل شوي دي. مثلاً، د ننګرهار ولايت په ابتدائيه او استيناف محکمو کې ۱۲٦ محرران کار کاوه، چې اوس له هغې څخه یواځې ۴۲ تنه پاتې دي. د عدليې وزارت د حقوقو د آمریتونو د درېيم او څلورم بست کارکوونکي د حقوقي مساعدینو په ګډون هم د یو فرمان په ترڅ کې ګوښه شوي او یواځې د پنځم او شپږم بست کارکوونکي خپل کار ته دوام ورکوي.




### ۲. د اختصاصي ځارنواليو او محاکمو انحلال

یو بل اقدام چې په عدلي او قضايي بنسټونو کې شوی، د ملاتړيزو جوړښتونو لغوه کول دي، لکه اختصاصي ځارنوالی او محاکم. طالبانو د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي له جرمونو سره د مبارزې د اختصاصي محکمې، د ماشومانو سرغړونو ته د رسېدنې د اختصاصي محکمې، اداري فساد سره د مبارزې د محکمو او د داخلي او خارجي امنيت پر وړاندې د مبارزې د ديوان په ګډون، ټول اختصاصي محاکم لغوه کړل.

همدا راز، طالبانو د ښځو او ماشومانو پر وړاندې له تاوتریخوالي سره د مبارزې اختصاصي ځارنوالی، اداري فساد سره د مبارزې ابتدائيه ځارنوالي او په مرکز او بېلابېلو ولایتونو کې په دولتي ادارو کې د ښځو له زورولو سره د مبارزې  رياستونه د لويې ځارنوالی له تشکيل څخه حذف کړل. اختصاصي ځارنوالی او محکمې چې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د عدلي او قضايي بنسټونو په تشکيل کې رامنځته شوي وې، د عدالت او د قانون د حاکميت په تامين، اداري فساد سره د مبارزې او د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي سره د مبارزې په برخو کې يې مهم نقش درلود.

۷ رواداري، د «ځپل او شاتګ»۲۰۲۲ تر عنوان لاندې، پر افغانستان د طالبانو د حاکمیت په لومړي کال کې د بشر حقونو وضعیت.لینک: https://rawadari.org/10122022776.htm/

### ۳. د قوانینو لغوه

طالبانو د اساسي قانون او جزايي قوانینو په ګډون ټول مخکني مقررات او قوانین لغوه کړل، چې د بشر حقونو له بین المللي اسنادو څخه په الهام وضعه شوي ؤ. دا هغه قوانین ؤ چې په همدې دلیل د سیمې د هیوادونو په کچه تر ټولو ښه قوانین ګڼل کېدل. اوس، فتواوو او د اسلام فقهي او سلیقوي برداشتونو د مخکنیو قوانینو ځای نیولی او د طالبانو محکمې له فقهي سرچینو څخه په استفادې جزايي او حقوقي قضیو ته رسیدنه کوي. مثلاً یو شمېر قاضیان په مجله الاحکام[۸] استناد کوي او یو شمېر نور د خپل شخصي فهم او پوهې پر بنسټ حکمونه صادروي. د جزايي او حقوقي قضیو اړوند فیصله او حکم صادرول په دې ډول دي، چې لومړی قاضیان احکام له حنفي فقهې استنباطوي او دوسیه د وروستی پرېکړې لپاره مفتي ته لیږي، مفتي حکم له شرعي موازینو سره تطبیقوي او بیا یې ردوي یا تائیدوي. په هغو مواردو کې چې مشخص حکم په فقهي منابعو کې نه وي، مفتي د خپل شخصي فهم او برداشت پر بنسټ فتوا ورکوي او په دې ډول حکم جاري کیږي.

سربېره پر دې، د طالبانو د رهبر فرمانونه هم د قرارونو او قضایي فیصلو مهم بنسټ ګڼل کیږي. د طالبانو رهبر د یو شمېر جزايي مواردو اړوند فتوا ورکوي او هغه د محاکمو د فیصلې او حکم بنسټ ګرځي.

د محاکمو، په ځانګړي ډول په جزايي قضیو کې د اعتراض او بیا کتنې غوښتنې حق ته کمه پاملرنه کیږي. خو په حقوقي قضیو کې د دعوا طرفونه کولای شي د محکمو پر حکم اعتراض وکړي او یا د بیا کتنې غوښتونکي شي. رواداري ته یوې سرچینې ویلي چې په جزايي قضیو کې که د محکمو پر حکم اعتراض وشي یو شمیر قاضیان هغه د اسلامي شریعت مخالفت تعبیروي.

### ۴.د جزايي اجراآتو له پروسې څخه د تحقیق د مرحلې له منځه وړل

څېړنه یا تحقیق قضیو ته د رسېدو د پروسې مهمه برخه ده چې په دې مرحله کې د شواهدو، مدارکو او د جرم د اثبات د دلایلو د راټولولو اقدام کیږي، او د محاکمو د تصمیم نیونې په پروسه کې مهم اغېز لري. د دې کار لپاره باید مشخص بنسټونه په قانون کې له تعریف شویو صلاحیتونو سره موجود وي. مخکې د تحقیق د بهیر د څارنې مسئولیت د لويې څارنوالۍ پر غاړه وو اوس طالبانو دغه اداره «د فرمانونو او احکامو د څارنې او تعقیب بنسټ»[۹] باندې بدل کړ، او عملاً یې د جزايي اجراآتو له پروسې څخه د تحقیق مرحله حذف کړه. که څه هم چې د تحقیق صلاحیت پولیسو، د استخباراتو ادارې او محاکمو ته سپارل شوی؛ خو په دې اړوند یو ډول رویه وجود نه لري، او هم د دې کار لپاره په محکمو او پولیسو کې ځانګړې برخه نه ده رامنځته شوې او

**د ځینو دوسیو اړوند هم پولیس او هم محکمې په یو وخت او په ځینو قضیو کې یا پولیس او یا محکمې تحقیق کوي او په یو شمېر قضیو کې هیڅ تحقیق نه ترسره کیږي.**

لکه په پنجشېر ولایت کې یواځې محکمې د تحقیق واک لري، په داسې حال کې چې په یو شمېر نورو ولایتونو کې هم پولیس تحقیق کوي او هم محکمې.

**د رواداري موندنې ښیي چې ډېری جزايي قضیې له هر ډول تحقیق او د اسنادو او د جرم د اثبات دلایلو له راټولولو پرته په یوه ناسته کې فیصله کیږي او حکم یې صادریږي. له بل پلوه، هغه افراد چې د استخباراتو یا امربالمعروف اداره یې نیسي په هماغه ورځ یې پرته له تحقیق څخه مجازات کوي او دوسیې یې محکمو ته نه راجع کیږي. همدا راز یوه برخه قضیې د امنیه قوماندانیو په جنایي مدیریتونو کې هواریږي او نیول شوي کسان یا په مستقیم ډول د بند مودې د تېرولو لپاره زندان ته ځي او یا آزادیږي.**

۸ مجله الاحکام د حنفي فقهې یوه معتبره سرچینه ده چې عمدتاً د عقودو او معاملاتو په اړه یې مشخص احکام بیان کړي دي.

۹ د لويې څارنوالۍ د دارالانشاء ریاست، «د فرمانونو او احکامو د څارنې او تعقیب لوی ریاست» باندې د لويې څارنوالۍ د بدلولو په اړه د طالبانو د رهبر ملا هیبت الله هدایت، څوارلسم متحدالمال، نېټه: ۲۲ مارچ ۲۰۲۳.

په حقوقي قضيو کې هم خپله محکمې د اسنادو او مدارکو د راټولولو اقدام کوي او عدليه رياستونه عملاً په دې برخه کې هيڅ واک نه لري. پر همدې بنسټ، تحقيق د جزايي اجراآتو د پروسې د يوې مرحلې په توګه عملاً له منځه تللی. ځکه په محکمو کې د تحقيق برخه نشته او د دې کار لپاره مشخص کسان نه دي ټاکل شوي. ظاهراً هغه قاضيان چې فيصلې کوي تحقيق هم ترسره کوي او په عمل کې نه يواځې قاضيان بلکې د امنيتي ځواکونو هر سرتېرى او سيمه ييز چارواکي د جزايي اجراآتو په هره مرحله کې کولای شي دا کار ترسره کړي. د بېلګې په توګه د باميانو په کهمرد ولسوالی کې ولسوال د قاضي پر ځای له تورن څخه تحقيق کوي.

## ۵. حقوقي قضيو ته په رسېدنه کې د يو ډول رويې نشتوالی

مدني او حقوقي دعوو ته د رسېدنې د ډول په اړه هم مشخص او يو ډول ميکانيزم نشته او دې ډول قضيو ته په رسېدو کې د طالبانو د محکمو روش يا طريقه په يو ولايت کې تر بل ولايته او له يوې محکمې تر بلې توپير لري. لکه په کندهار ولايت کې لومړی د پوليسو حوزې د حقوقي قضيو د هوارې لپاره اقدام کوي او که کومې پايلې ته و نه رسېدل دوسيه د رسېدنې لپاره امنيې قوماندانی ته سپاري، د دې کار لپاره د کندهار ولايت د پوليسو په هره حوزه کې يو رضاکار مفتي حضور لري. که امنيه قوماندانی د دعوې د دواړو خواوو قناعت ترلاسه نه کړ دوسيه يې د حقوقو آمريت ته سپارل کيږي، چې دا مهال د ښارې محکمو يوه برخه ده. په هلمند ولايت کې طريقه بله ده، دلته لومړی قضيه د حقوقو آمريت ته سپاري او که هلته حل و فصل نه شوه نو محکمو ته سپارل کيږي. په ډېری مواردو کې، د يوې محکمې د غړو او قضايي پلاوي تر منځ هم د نظر توافق موجود نه وي، او علت يې د فقهې سرچينو پراخوالی دی، او دا هغه مساله ده چې دوسيو ته د رسېدنې بهير يې ټکنی کړی او د مدعيانو سرګرداني يې زياته کړې.

## ۶. د غير مسئولو ارګانونو او مراجعو له خوا د قضايي واکونو اعمالول

د رواداري د ارزونو پايلې ښيي چې يوه مهمه برخه حقوقي او جزايي قضيې د غير مسئولو بنسټونو او مراجعو له خوا حل و فصل کيږي. د امربالمعروف ادارې، پوليس، د استخباراتو اداره، فقهي شورا، فقهي کميسيون، د ديني مدرسو دارالفتا[۱۰]، قومي مشران او سيمه ييزې جرګې هغه مراجع دي چې د حقوقي او جزايي قضيو حل و فصل او ورته رسېدنه کې مهم نقش لري. مثلاً په بدخشان ولايت کې د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي اړوند ټولو قضيو او د شخصيه احوالو قضيو ته د امربالمعروف له خوا رسېدنه کيږي او دعوې معمولاً د ښځو په تاوان فيصله کيږي. په ختيځو ولايتونو کې لکه پکتيا، پکتيکا او خوست کې ډېری حقوقي او قضايي قضيې د ولسوالانو، ملا امامانو، قومي مشرانو او سيمه ييزو جرګو له خوا حل و فصل کيږي. په يو شمېر ولايتونو کې د ټولنيزو شخړو د هوارې کميسيون رامنځته شوی چې جزايي قضيو ته د رسېدنې واک هم لري. په دايکندي ولايت کې معمولاً د والي مرستيال او د استخباراتو اداره حقوقي قضيې هواروي. همدا راز، په بغلان ولايت کې هم ډېری حقوقي او جزايي قضيې د امربالمعروف په اداره کې حل و فصل کيږي او دوسيې محاکمو ته نه راجع کيږي.

۱۰ دارالفتاء هغه بنسټ دی چې د اهل سنت په ډېری مدرسو کې وي او د شرعي مسايلو د ځوابولو لپاره رامنځته شوی دی.


انځورگر: فاطمه وجوهات

# ۳

# د عادلانه محاکمې د اصولو نقض او عدالت ته د لاسرسي وضعيت

د بشر حقونو نړيوال اسنادو د هغو کسانو لپاره چې پر حقونو يې تېرى شوى وي او د يو جرمي عمل د ارتکاب په پايله کې يې زيان ليدلى وي، دا حق تضمين کړى، چې د صلاحيت لرونکي محکمې پر وړاندې د خپل حق غوښتنه وکړي او په همدې توګه هغه کسان چې تورن وي، بايد وتوانيږي چې په يوه بې پرې او خپلواکه محکمه کې له خپل ځانه دفاع وکړي. په همدې منظور، د بشر حقونو نړيوال اسنادو د عدالت له اجراء څخه د ډاډ ترلاسه کولو او د مظنون او تورن د بشري حقونو د تضمين لپاره ځانګړي اصول او معيارونه ټاکلي، چې د جزايي اجراآتو د پروسې په ټولو مرحلو کې، د کشف له مرحلې د حکم تر صادرېدو، د مجازاتو تر اجراء او له هغې وروسته بايد رعايت شي. د روادارۍ موندنې ښيي چې قاضيان او د طالبانو محکمې له يادو اصولو سره بلدتيا نه لري او په خپلو اجراآتو کې د بشر حقونو موازنو ته پاملرنه نه کوي. په ځانګړي ډول په تعزيري جرمونو، حدودو او د قصاص په جرايمو کې د عادلانه محاکمې موازينو ته اهميت نه ورکوي.

د راپور په دې برخه کې په تفصيل او په مشخص ډول د عادلانه محاکمې د موازينو نقض او عدالت ته د افغانانو د لاسرسي پر وړاندې شته ننګونو څخه بحث کوو. د يادونې وړ ده چې مخکني قوانينو لکه اساسي قانون، د جزايي اجراآتو قانون، د جزا کوډ، د محکمو او څارنواليو د دندو او واکونو د تشکيل قانون او څارنوالۍ، د عادلانه محاکمې اصول تضمين کړي ؤ؛ خو دا چې په دغه برخه کې هيڅ يو مخکنى قانون اوس نه دى نافذ او د طالبانو په حکومت کې اعتبار نه لري، نو په دې بحث کې يواځې د بشر حقونو بين المللي اسنادو باندې استناد شوى، چې طالبان يې په حقوقي لحاظ پر رعايت مکلف دي.


انځور: ايندیپندنت فارسی

## د طالبانو د محکمو او قاضیانو تبعیضي چلند

د قانون پر وړاندې د کسانو برابري د عادلانه محاکمې یو تر ټولو مهم اصل دی چې د بشر حقونو په نړیوال اسنادو کې تسجیل شوی[11]. د دې اصل پر بنسټ محکمې او قاضیان مکلف دي چې د دعوې له طرفینو سره په برابره توګه او یو ډول چلند وکړي. خو د رواداري موندنې ښیي چې طالبان له ښځو، د مخکني حکومت کارکوونکو او د جعفري مذهب پیروانو سره تبعیضي چلند کوي.

## ۱. ښځو سره تبعیضي چلند

په مخکني حکومت کې بېلابېلې اختصاصي څارنوالی او محکمې رامنځته شوې وې چې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي اړوند جرمونو ته یې رسېدنه کوله. طالبانو دا څارنوالی او محکمې د عدلي او قضايي بنسټونو له تشکیل څخه حذف کړې دي، او هم یې د ښځو چارو وزارت او د ۲۷ په شمېر د ښځو ملاتړیز مرکزونه په ټول هیواد کې منحل کړي دي، چې دا مهال یواځې یو مرکز په کابل ښار کې فعال دی[12]. د مخکنیو قوانینو لغوه کولو سره هم مهاله د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوي قانون هم لغوه شو، چې ښځو سره د تاوتریخوالي بېلابېلې بڼې یې جرم ګڼلې وې، او په دې ترتیب، ښځو سره د تاوتریخوالي د قربانیانو د ملاتړ قانوني میکانیزمونه له منځه لاړل.

**عدلي او قضايي بنسټونه، لکه محکمې، څارنوالي او د کورنیو چارو وزارت مهمې برخې د ښځو کارکوونکو له وجوده تصفیه شوې، تر دې چې د طالبانو تر کنټرول لاندې په عدلي او قضايي بنسټونو کې هیڅ ښځه حضور نه لري، او هغه ښځې چې مخکې یې د مدافع وکیلانو په توګه فعالیت کاوه، فعلاً د کار رسمی اجازه نه لري.**

البته د محدود شمېر ښځو څخه په استثنا چې ځینې یې د ساتونکو او یا د بدني تلاشی او د کورونو د تلاشي لپاره د کورنیو چارو وزارت او د استخباراتو ادارې په ځینو برخو کې استخدام شوې دي. سربېره پر دې، طالبانو په تېره نږدې دوه کاله موده کې د ښځو پر اساسي آزادیو سخت مقررات وضعه کړي، د بېلګې په توګه، حتا د روغتیایي خدماتو ترلاسه کولو او یا عدلي او قضايي بنسټونو ته په مراجعې کولو کې هم له «شرعي محرم» پرته له کوره د ښځې د وتلو مخنیوی شامل دي. سره له دې، هغه ښځې چې د نږدې خپلوانو او شرعي محارمو له خوا تاوتریخوالی ورسره کیږي نشي کولای د دادغوښتنې عدالت غوښتنې لپاره محکمو او نورو مسئولو مراجعو ته مراجعه وکړي. دې ټولو یادو مواردو عدالت ته د ښځو د لاسرسي پر وضعیت منفي او زیانمنوونکې اغېزې درلودلې دي.

د رواداري موندنې ښیي چې په تېرو نږدې دوو کلونو کې د تاوتریخوالي قرباني ښځې عدالت ته په لاسرسي کې له ډېرو ننګونو او خنډونو سره مخامخې دي. لکه څنګه چې په ټول هیواد په ځانګړي ډول په پکتیکا، پکتیا، کنړ، جلال آباد، زابل او هلمند ولایتونو کې ښځې د طالبانو محاکمو ته د مراجعې جرات نه لري. د ترلاسه شویو شواهدو او مدارکو پر بنسټ طالبان د ښځو جزایي او حقوقي دعوو اړوند سخت چلند لري او په ډېری مواردو کې قضایي فیصلې د قرباني ښځو په زیان صادروي. په ځانګړي ډول په هغو قضیو کې چې د ښځو په شخصیه احوالو پورې اړه لري، لکه د تفریق غوښتنه، اجباري ودونه، میراث او د نفقې اړوند قانوني اثر نه ترتیبوي، او د قرباني ښځو شکایت ته په دې ډول مواردو کې چندان اعتنا نه کوي. حتی د هغو ښځو دوسیې چې په تېر حکومت کې په دوران کې وې، د قضايي اجراآتو له بهیره ویستل شوې دي.

د رواداري د موندنو پر بنسټ، د ښځو اړوند ډېری جزایي او حقوقي قضیې د امر بالمعروف په اداره کې حل و فصل کیږي او هیڅ رسمي دوسیه د ښځو د شکایت پر بنسټ نه ترتیبیږي. لکه، په بلخ، تخار او بغلان ولایتونو کې یواځنی بنسټ چې د ښځو مدني او جزایي قضیو ته رسېدنه کوي د امر

۱۱ د ملګرو ملتونو سازمان عمومي غونډه، د مدني او سیاسي حقونو بین المللي میثاق، په ۱۹٦٦ کال کې تصویب شوی، ۱۴مه ماده.

۱۲ ملاتړیز بنسټونه د تاوتریخوالي قرباني ښځو د ملاتړ په موخه په هیواد کې رامنځته شوي وه. قرباني ښځې په دغه مراکزو کې په لنډمهاله توګه ساتل کیدی او په دغه موده کې یې بې لګښته روغتیایي، رواني، حقوقي، زده کړییز، فني او حرفوي زده کړو ته لاسرسی درلود.

بالمعروف اداره ده. په ځينو ولايتونو کې د ښځو قضيې د محاکمو په مدني ديوان او په يو شمېر نورو کې په امنيه قوماندانيو کې حل و فصل کيږي. له بل پلوه، ترلاسه شوي معلومات ښيي، چې د هيواد په ډېرى برخو کې د ښځو جزايي او حقوقي قضيې د غير قضايي ميکانيزمونو له لارې حل و فصل کيږي، لکه سيمه ييزې جرګې. د بېلګې په توګه، د ۲۰۲۳ کال د فبرورۍ مياشتې پر ۱۹مه نېټه په بادغيس ولايت کې يوه ښځه د خپل خاوند له خوا ووهل شوه او وروسته يې اور ورواچاوه. کله چې ګاونډيان او د سيمې خلک له پېښې خبر شول، ښځه يې روغتون ته يوړه، چې يوه مياشت وروسته يې د وارد شويو زيانونو له امله ژوند له لاسه ورکړ. د دې ښځې خپلوانو طالبانو ته شکايت وکړ او طالبانو دغه قضيه د سيمې مشرانو ته راجع کړه، په جرګه کې فيصله وشوه چې د ښځې خاوند دې د ښځې کورنۍ او پلار ته يوه ټوټه ځمکه ورکړي، او په دې توګه د خاوند له خوا د يوې ښځې د قتل قضيې ته رسيدنه وشوه.

په يو بل مورد کې په باميان ولايت کې د يوې ښځې او مېړه د تفريق حکم چې په مخکنيو محکمو کې نهايي شوی او اجراء شوی و او ښځې د عدت د دورې له تېرولو وروسته بيا واده کړی و، خو په وروستيو کې يې مخکني مېړه شکايت وکړ او د طالبانو محکمې مخکنی حکم باطل کړ او ښځې ته يې ويلي چې بايد بياځلې له خپل لومړي مېړه سره واده وکړي.



انځورګر: فاطمه وجوهات

## ۲. له شعيانو سره تبعيضي چلند

پر افغانستان د طالبانو له تسلط سره سم ټول اهل تشيع قاضيان له دندو ګوښه شول، او اوس د طالبانو په محکمو کې هیڅ شعیه قاضي د قضا په منصب کې نشته. همدارنګه، طالبانو «د اهل تشيع د شخصيه احوالو قانون» لغوه کړ، او د مدني او شخصيه احوالو په ګډون د اهل تشيع د قضيو اړوند پرېکړې د حنفي فقهې پر بنسټ کیږي. د طالبانو «د محاکمو لایحه» کې ۸مه ماده وايي: «قاضیان او د محاکمو اړوند غړي مکلف دي چې ټولې پرېکړې د حنفي فقهې په رڼا کې صادرې کړي، چې د معتبرو کتابونو حوالې او فقهي جزئيات ولري.» [13] د رواداري موندنې ښيي چې د طالبانو محکمې په هغو قضیو کې چې د دعوې یو اړخ شعیه مذهب وي، توپيري چلند کوي. مثلاً، د هرات ښار «دولت خانه» سیمه کې محکمې د یو مسجد پر سر د ملکیت دعوا، چې شعیه مذهبو ترې ډېر کلونه ګټه پورته کوله، قضيه د خپلو ځواکونو او د حنفي مذهب د پيروانو په ګټه فیصله کړه، او شیعه یان یې له مسجده وویستل.



انځور: د انديشه بنسټ

همدا راز، رواداري په هرات کې د طالبانو د قاضيانو له یوې سرچینې نقل قول کړی چې «د اهل تشيع پيروان اهل ذمه [14] دي او باید له حنفي فقې سره سم  یې د قضیو اړوند حکم صادر شي.» له همدې امله شيعان د طالبانو پر محکمو کم اعتماد کوي، او په ځانګړې ډول په حقوقي قضیو او شخصيه احوالو کې غير قضایي ميکانيزمونو، لکه قومي جرګو او د مسجدونو امامانو ته مراجعه کوي، چې د خپل مذهب د فقهې پر بنسټ یې په اړه تصمیم و نیول شي. سربېره پر دې، له نورو قومي ډلو سره هم د طالبانو چلند مناسب نه دی او په دې برخه کې د بادغیس ولایت د قلعه نو ښار سرچینو ویلي چې د طالبانو قاضيان له نورو قومي ډلو سره د دعوې د یو اړخ په توګه تبعيضي چلند کوي.

۱۳ د طالبانو اسلامي امارت، د محکمو لایحه، ۲۰۱۸ کال، ۸مه ماده.

۱٤ د اهل ذمه اصطلاح څخه منظور«ټول کافران، اهل کتاب او مشرکان رانغاړي چېد اسلامي حکومت په قلمرو کې اوسیږي او د جزیې په ورکولو او اسلامي قوانینو ته په غاړې ایښودلو یې ځان او مال خوندي کیږي.».

## شکنجه او له تورن څخه په زوره اعتراف اخستل

د بشر حقونو نړیوال اسنادو د انسان شکنجه او تعذیب په هر حال کې منعه کړې، او له شکنجې څخه د خلاصون حق یې پرته له هیڅ محدودیت څخه تضمین کړی دی. د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق ۷مه ماده وايي: «هیڅوک د شکنجې، زورونې او یا ظالمانه او غیر انساني چلند سره نشي مخامخېدای[15]. همدا رنګه، د شکنجې د مخنیوي، ظالمانه مجازاتو او غیر انساني او سپکوونکي چلند د مخنیوي نړیوال میثاق د لومړۍ مادې له مخې، «هر قصدي عمل چې له یو کس یا درېیم کس څخه د اطلاعاتو یا د اقرار اخستلو په موخه ترسره شي او له امله یې سخت جسمي یا روحي کړاو رامنځته شي، ربړونه یا شکنجه ورته وايي.» [16] د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق کې په صراحت راغلي چې : «هر شخص حق لري چې وربانديې د هر ډول تور د تثبیت په جریان کې په مساوي ډول کم تر کمه دغه لاندې تضمینونه ولري: (ز) اړ نکړای شي چې پر خپل ځان شاهدي ورکړي یا پر جرم اعتراف وکړي.» [17] هغه اعتراف او اقرار چې په شکنجه ترلاسه شوی وي حقوقي اعتبار نه لري او قاضي نشي کولای پر استناد یې حکم وکړي. خو د ترلاسه شویو معلوماتو او شواهدو پر بنسټ، شکنجه او اجباري اعترافات د طالبانو په عدلي او قضایي نظام کې د تور د اثبات د یواځنۍ طریقې په توګه کارول کیږي.

څکه طالبان د اسنادو او د تور د اثبات د دلایلو راټولولو له طریقو سره بلدتیا نه لري، او هم اعتراف، شاهدی او قسم ته په قضایي فیصلو کې اهمیت ورکوي. په همدې دلیل د شکنجې د بېلابېلو طریقو په کارولو سره مظنون او متهم اجباري اعتراف ته اړباسي او یا هم د متهم لپاره د مجازاتو په توګه له شکنجې څخه استفاده کوي.



د شکنجې له قربانیانو سره د مرکو د پایلو پر بنسټ، وهل ټکول، د مرمۍ په فیرولو سره ویرول، په سخته ګرمۍ کې کېنول، په رسۍ خفه کول، له حده ډېرې اوبه ورکول او بیا د قربانیانو د تناسلي آلې ترل، د قربانیانو په تناسلي آلې پورې درانه څیزونه ترل او بیا یې تګ ته مجبورول، سر ته پلاستیک ور اچول چې ساه یې بنده شي، د ډېرو ترخو خوړو ورکول، بې خوبه کول، په بدبویه ځای کې ساتل، ځړول، د برېښنا شارټونه ورکول، د ویښتو ویستل او په حیواناتو سره ترل د طالبانو په بندیخانو او په ځانګړي ډول د استخباراتو په نظارت خونو کې د شکنجې او ربړونې معمولې طریقې دي.

۱۵ د ملګرو ملتونو عمومي ناسته، د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق، د ۱۹٦٦ کال تصویب شوی، اوومه ماده.

۱٦ د ملګرو ملتونو عمومي ناسته، د شکنجې، ظالمانه مجازاتو او د غیر انساني او سپکوونکي چلند د مخنیوي نړیوال میثاق، د ۱۹۸٤ کال تصویب شوی، لومړۍ ماده.

۱۷ هماغه، ماده ۱٤.

**د کندهار ولایت د تمیز محکمې ریاست د قضايي معاونیت یو رسمي لیک کې چې د سویل لویدیځو ولایتونو امنیه قوماندانیو او استخباراتو ادارو ته استول شوی، راغلي چې د محکمې له حکم پرته هیڅوک شکنجه نکړئ، په دې لیک کې د استخباراتو ادارې، د پولیسو د حوزو او د ولسوالیو په بندیخانو کې د شکنجې او پراخو ناوړه چلندونو او له زندانیانو څخه په زوره اعتراف اخستلو ته اشاره شوې.[۱۸] په داسې حال کې چې له شکنجې څخه خلاصون د یو مطلق حق په توګه پېژندل کیږي او د بشر حقونو نړیوال اسنادو یې په بې قید و شرطه رعایت تاکید کړی دی؛ خو د کندهار ولایت د تمیز محکمې په یو لیک کې د محکمې په حکم شکنجې او ربړولو ته اجازه ورکول شوې ده.**

د ۲۰۲۲ کال په جون میاشت کې د بادغیس ولایت په قلعه نو ښار کې یو معتاد کس د مسجد د بیټرۍ د غلا په تور د طالبانو له خوا نیول شوی او د بربنډنا په شارټونو ربړول شوی. په یوه بله پېښه کې د بامیان ولایت یو اوسېدونکي ویلي چې طالبانو هغه او نور بندیان د شپې له خوا وهل ټکول او شکنجه کول، چې اعتراف وکړي. همدا رنګه د کندهار ولایت د عینو مېنې یو اوسېدونکي رواداري ته ویلي چې: «طالبانو زه او ورور مې له کوره ونیولو، زمونږ سترګې یې راوتړلې او بیا یې په عینو مېنه کې د څو چوکونو شاوخوا له ګرځولو وروسته یو شخصي کور ته یوړو. هغوی (طالبانو) مونږ په مرګ او سخته شکنجه باندې ګواښلو او زما او زما د ورور د خوشې کولو په بدل کې یې دوه عرادې موټر غوښتل، چې مجبور شوو یو «کرولا» او یو «لوکسل» موټر ورته برابر کړو. هغوی د موټرو د تسلیمۍ سندونه موږ ته راکړل او وروسته مونږ د نورو طالبانو له خوا پرېښودل شوو.»

د کندهار ولایت یو بل اوسېدونکي رواداري ته ویلي چې هغه او درې تنه نور، ۲۰۲۳/۱۳/۴ نېټه، د امر بالمعروف د آمر له خوا و نیول شول او د پولیسو حوزې ته ولېږدول شول. هغوی درې ورځې په یو بدبویه کانتینر کې ساتل شوي او په دې موده کې یې مناسبو اوبو او خوړو ته هم لاسرسی نه درلود.

**د میدان وردګ ولایت یو مدني فعال رواداري ته ویلي چې د ۲۰۲۲ کال په سپتامبر کې د استخباراتو ادارې هغه د یو فیسبوکي پوست له امله چې په طالبانو یې نیوکه کړې و، ونیو او د یوې اونۍ لپاره یې په زندان کې وساته. طالبانو هغه درې ځلې په کوتک او کیبل شکنجه کړی او هر ځل یې ورته ویلي چې دا هغه سزا ده چې پر طالبانو د نیوکې له امله ورته ټاکل شوې ده. هغه وایي، د تعهد او ضمانت په ورکولو چې بیا به پر طالبانو انتقاد نه کوي او د شکنجې په اړه به چا ته څه نه وایي، له بنده آزاد شو. طالبانو هیڅ رسمي تور او مکتوب نه دی ترتیب کړی او نه یې هم کورنۍ ته د یاد کس د نیولو په اړه څه ویلي ؤ.**

همدا راز، د هغو شواهدو پر بنسټ چې د رواداري په واک کې ورکړل شوي، په کندهار ولایت کې یو مخکنی نظامي کس چې د طالبانو له خوا نیول شو و، د خورا زیاتې شکنجې له امله په یوه امنیتي حوزه کې وژل شوی دی. له بېلابېلو ولایتونو څخه مرکه شوي کسان چې له رواداري سره یې مرکې ترسره کړې دي، ویلي چې طالبان زندانیان هره شپه له یوې بجې وروسته شکنجه کوي. دا چې رواداري او نور حقوق بشري بنسټونه د آزادۍ د سلب ځایونو ته لاسرسی نه لري، ځکه خو د شکنجې د قربانیانو دقیق شمېر په لاس کې نشته.

بله د یادونې وړ نکته دا ده چې دا مهال هیڅ حقوقي میکانیزم نشته چې له متهم او مظنون څخه د طالبانو د شکنجو پروړاندې ملاتړ وکړي. ځکه هغوی د اساسي قانون، جزایي قوانینو او د شکنجې د مخنیوي قانون په ګډون ټول مخکني قوانین لغوه کړي دي. په همدې دلیل د شکنجې منعه د طالبانو په عدلي او قضايي نظام کې نه ده تضمین شوې او د قربانیانو لپاره د شکایت او د خسارې د جبران غوښتنې امکان په رسمیت نه دی پېژندل شوی.

۱۸ د سویل لویدیز د تمیز محکمې ریاست، ۱۱۹۱ شمېره مکتوب، نېټه: ۲۰۲۳/۱۰/۲۴.

## خپلسرى او غير قانوني توقيف

د بشر حقونو بين المللي اسنادو له خپلسري توقيف څخه خلاصون د افرادو لپاره د يو بشري حق په توګه تضمين کړى. د مدني او سياسي حقونو بين المللي ميثاق ۹مه ماده وايي: «هر څوک د آزادى او شخصي امنيت حق لري. هيڅوک بايد په خپلسري ډول (له مجوز پرته) و نه نيول شي او بندي نه کړاى شي، د هيڅ آزادي نشي سلبيداى مګر په قانون کې د ټاکل شويو محاکماتي اصولو سره سم.» [19] پر همدې بنسټ، هر کله چې د افرادو د آزادى سلب له قانوني مجوز پرته، غير ضرور، نامتناسب، نه اټکلېدونکى او تبعيضي وي، د آزادى او شخصي امنيت د حق نقض ګڼل کيږي.

د رواداري د موندنو او معلوماتو پر بنسټ، طالبان د افرادو په نيولو او بندي کولو کې په يادو اصولو عمل نه کوي او په نږدې دوه کاله موده کې يې سلګونه تنه مخکني نظاميان، قومي مشران، خبريالان، د بشر حقونو او ښځو د حقونو فعالان په خپلسري ډول نيولي، شکنجه کړي او حتا وژلي دي. [20] طالبان که په هره برخه او د صلاحيت په هره کچه کې وي د نيولو او بندي کولو تر ټولو لومړنيو تشريفاتو ته هم هيڅ پاملرنه نه کوي، او د محکمې له حکم يا د مسئولو مراجعو له اجازې پرته کولاى شي خلک و نيسي او بنديان يې کړي.

**لکه په غور ولايت کې، پر پوليسو سربېره د استخباراتو ادارې منسوبين، د امر بالمعروف ادارې محتسبان او د ښاروالى کارمندان هم خلک توقيف او بنديانوي، چې دا چاره د بشر د حقونو ښکاره نقض دى. په کندهار ولايت کې يو شمېر قربانيانو رواداري ته ويلي چې هغوى د ترافيک رياست، احصائيې رياست، عامې روغتيا رياست او ميرويس حوزوي روغتون د مسئولينو له خوا نيول شوي او د لنډې مودې لپاره په خونو کې بنديان شوي ؤ.**

ډېر داسې موارد شته چې د طالبانو د استخباراتو ادارې «د جزايي مسئوليت د شخصيوالي اصل» ته له پاملرنې پرته د مخکني حکومت د کارکوونکو خپلوان، خپل منتقدين او مخالفين نيولي او شکنجه کړي دي.[21]

دا قضيې چې د استخباراتو او امربالمعروف له خوا د خپلسرو نيونو له سلګونو بېلګو څخه دي، د دې ښکارندويي کوي چې د دې دوو بنسټونو واکونه په هيڅ قانون محدود او مقيد نه دي او هغوى کولاى شي خلک ونيسي، شکنجه يې کړي او د نامعلوم وخت لپاره يې بنديان کړي.

## شخصي زندانونه

د رواداري موندنې ښيي چې د هيواد په بېلابېلو برخو کې د طالبانو قوماندانان او سيمه ييز مسئولين د خلکو د بنديانولو او شکنجه کولو لپاره له شخصي زندانونو استفاده کوي. له سيمه ييزو سرچينو څخه د ترلاسه شويو معلوماتو پر بنسټ، په هلمند ولايت کې يو شمېر ملکي ادارو يوه خونه يا يو کانتينر د خلکو د نيولو او بنديانولو لپاره ځانګړې کړې دي. لکه د ښاروالى رياست له يو کانتينر څخه د بنديخانې کار اخلي. په بل مورد کې هغه کسان چې دلته ساتل کېدل د سيمې د متنفذينو او قومي مشرانو په مداخله خوشې شول. د ميدان وردګ ولايت او د کندهار ولايت په ډنډ، پنجوايي، شاوليکوټ او سپين بولدک او «عينو مېنه» کې د طالبانو سيمه ييز مسئولين خلک په خپلو کورونو کې بنديانوي او په سويل لويديځه حوزه کې هم ولسوالان او د ښاروالى رياستونه خلک نيسي او په شخصي زندانونو کې يې بنديانوي.

۱۹ د ملګرو ملتونو عمومي ناسته، د مدني او سياسي حقونو بين المللي ميثاق، د ۱۹٦٦ کال تصويب شوى، ۹مه ماده.

۲۰ رواداري، «بازداشت هاى خود سرانه و غير قانوني در افغانستان»، ۲۰۲۳. لينک: https://rawadari.org/230120231254.htm/

۲۱ رواداري، «بازداشت هاى خودسرانه و غير قانوني در افغانستان» ګزارش، ۲۰۲۳ کال.

د کندهار ولایت یو اوسېدونکي د طالبانو په شخصي زندان کې خپله تجربه داسې بیان کړه:

**«د ۲۰۲۲ کال د جولای پر ۲۷مه نېټه طالبانو زه ونیولم او سترګې یې راوتړلې او په موټر کې له شاوخوا دوه ساعته سفر وروسته یې د شاولیکوټ ولسوالۍ په یو لیرې کلي کې شخصي زندان ته ولېږدولم. د دوه ساعته سفر په جریان کې یې درې ځلې له موټره ښکته کړم، هغوی به ودرولم او زما په طرف به یې ډزې کولې، غوښتل یې چې اقرار وکړم، خو ما کومه ګناه نه وه کړې چې اقرار مې کړی وای. په دې ځای کې شاوخوا ۲۰ تنه نور هم بندیان ؤ.**

طالبانو به زه او نور بندیان د شپې د یوې یا دوو بجو شاوخوا بیرون ویستلو او شکنجه کولو به یې. له ۱۵ ورځو وروسته مې ورور د بند ځای پیدا کړ او له هغې ځایه یې وژغورلم. دویم ځل یې د کندهار یوې امنیتي حوزې ته او له هغې ځایه یې د امنیه قوماندانۍ نظارت خونې ته یوړم. د امنیه قوماندانۍ په نظارت خونه کې یې هم د شپې په نیمایي کې یې سخت شکنجه کولو، خواړه یې نه راکول او له ډېرې لوږې به مو احساس کاوه چې مرو. له اتو ورځو وروسته ثابته شوه چې ما کومه ګناه نه ده کړې او خوشې یې کړم.» له بلخ ولایت څخه یوې سرچینې رواداري ته ویلي چې طالبانو یو شمېر نیول شوې ښځې په شخصي زندانونو کې ساتلې او پر هغوی یې جنسي تېری کړی. یو تن عیني شاهد رواداری ته ویلي چې (( د شپې د اتو بجو وروسته به ځواني ښځې آرایش کیدلې او نامعلوم ځایونو ته لیږدول کیدلې؛ مګر سهار به بیرته په یو نامناسب رواني وضعیت کې راوستل کیدې))

په یو بل مورد کې، په ۲۰۲۲ کال کې په تخار ولایت کې د رستاق ولسوالۍ د ولسوال یو خپلوان یو تن د یوې اونۍ لپاره په خپل کور کې بندي کړی و. همدا رنګه، د ۲۰۲۲ کال په نیمایي کې افشا شوه چې د کابل ښاروالۍ له یو کانتینر څخه د شخصي زندان په توګه استفاده کوله. وروسته له هغې چې یو نیول شوی کس په دې کانتینر کې مړ شو، موضوع افشا شوه.

د رواداري موندنې ښیي چې په بالا مرغاب او جوند ولسوالیو او د بادغیس ښار په مرکز کې هم د طالبانو سیمه ییز مسئولین شخصي زندانونه لري. د ولایت په مرکز کې والي او د بادغیس د اقتصاد رئیس په خپل کاري دفتر کې شخصي زندان لري او نیول شوي کسان پکې ساتي. هغوی کولای شي دا افراد وروسته عمومي زندان ته ولیږي او یا یې خوشې کړي. په دایکندی ولایت کې د کرني او اقتصاد ریاستونه او د اردو په جلب او جذب قومنداني اړوند ګدامونو او ځاینو څخه د شخصي زندانو استفاده شوي. په بامیان ولایت کې د طالبانو په لومړیو کې هرې نظامي او ملکي اداری شخصي زندانونه لرل او په خپلسرې ډول یې خلک نیول او شکنجه کول. دا مورد په کهمرد او سیغان ولسوالیو کې اوس هم شته.
د یادونې وړ ده چې د شکنجې قربانیان او هغه کس چې د طالبانو په شخصي زندان کې ؤ، رواداري ته ویلي چې له خوشې کېدو وروسته طالبانو ترې ژمنه اخستې چې په دې اړه به له رسنیو او حقوق بشري بنسټونو سره خبرې نه کوي.

## د ذمې د برائت د اصل نقض

د ذمې برائت (د بې ګناهی فرضیت) د بشر حقونو په نړیوال اسنادو کې د متهم پر دفاعي حقونو د یو څارونکي اصل په توګه تضمین شوی دی. د مدني او سیاسي حقونو د نړیوال میثاق د ۱۴مې مادې په (۲) بند کې راغلي: « هر څوک چې د یو جرم په ارتکاب متهم شوی وي، حق لري چې بې ګناه فرض کړای شي، تر هغې چې د قانون مطابق یې ملامتیا ښکاره شي.» [۲۲] همدا راز، د سیاسي او مدني حقونو د نړیوال میثاق په ۱۰ ماده (۲) بند کې راغلي چې: «الف- متهمین دې له استثنایي مواردو پرته له محکومینو څخه بېل وساتل شي او د غیر محکومو اشخاصو د وضعیت په تناسب دې د بېل نظام تابع وي.» [۲۳] سره له دې، د رواداري موندنې ښیي چې د طالبانو په عدلي او قضایي نظام کې د ذمې د برائت اصل په پراخ ډول نقض کیږي، لکه څرنګه چې په مخکنیو برخو کې اشاره ورته وشوه، طالبانو د تحقیق مرحله د جزایي اجراآتو له پروسې څخه عملاً حذف کړې ده او د مظنون، متهم او مجرم تر منځ هیڅ تفکیک وجود نه لري. د استخباراتو او امر بالمعروف اداري په ډېری مواردو کې د یو تن له نیولو سره سم د رسمي دوسیې له ترتیب او محکمې ته له سپارلو پرته، هغوی مجازات کوي او څه موده پس یې بېرته خوشې کوي.

۲۲ د ملګرو ملتونو سازمان عمومي غونډ، د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق، د ۱۹۶۶ کال تصویب شوی، ۱۴مه ماده.

۲۳ هماغه سرچینه، ۱۰مه ماده.

د ترلاسه شويو شواهدو او مدارکو پر بنسټ، په سياسي جرمونو تورنو، د طالبانو مخالفينو او د مخکني حکومت کارکوونکو په نيولو کې محاکم کوم نقش نه لري، بلکې د استخباراتو او پوليسو منسوبين دغه کسان نيسي، محاکمه کوي او په خپله خوښه يې مجازات کوي. د خپلسرو او غير قانوني بنديانولو اړند هيڅ مخه نيوونکې حقوقي لاره چاره نشته، چې د نيولو شرايط او د کشفي او استخباراتي ارګانونو صلاحيت مشخص کړي. له ختيځو ولايتونو څخه يو شمېر کسانو رواداري ته ويلي چې څو مياشتې يې د طالبانو د استخباراتو په نظارت خونه کې تېرې کړې دي او په دې موده کې سخت شکنجه شوي دي. په داسې حال کې چې هيڅ سند يې نه دی لاسليک کړی او د هغوی لپاره هيڅ دوسيه نه وه ترتيب شوې، خو مياشتې مياشتې د استخباراتو په اداره کې بنديان ؤ، او وروسته په ضمانت خوشې شول. د نيولو او توقيفولو اړوند د استخباراتو، پوليسو او د امر بالمعروف ادارې صلاحيتونه مشخص نه دي او هغوی د نيول شويو کسانو دوسيې د تحقيق او قضايي پرېکړې لپاره محکمو ته نه سپاري. په دې اړوند د هيواد په ختيځ کې د محکمې يو کارکوونکي رواداري ته ويلي چې قدرت ته د طالبانو د رسېدو له وخته تر اوسه د استخباراتو د ادارې له خوا هيڅ دوسيه دوی ته نه ده سپارل شوې.

له بل پلوه، طالبان د يو شمېر افرادو هويت، په ځانګړې ډول د منتقدينو او مخالفينو هويت له نيولو سره سم د «جاسوس، مجرم، باغي او ...» په نومونو د خپل کنټرول لاندې رسنيو او ټولنيزو شبکو څخه تشهيروي چې دا مساله د ذمې د برائت د اصل ښکاره نقض دی.

## د قاضيانو او محکمو د استقلاليت او بې پرېتوب نشتوالی

د قاضيانو او محاکمو خپلواکي او بې پرېوالی د عادلانه محاکمې بل اصل دی چې «د بنسټ خپلواکي» او «د کس خپلواکي» په توګه، په دوو کچو کې مطرح کيږي، او په دې معنا ده چې محکمې او قاضيان بايد قضيو ته د رسېدنې د مرجع په توګه د ټولو دولتي بنسټونو او يا بهرنيو او کورنيو ځواکونو تر نفوذ لاندې په خپل تصميم کې تاثير او اغېز و نه مني. د بشر حقونو د نړيوالې اعلاميې د ۱۲مې مادې په لومړي بند کې راغلي: «هر کس په پوره برابرۍ سره حق لري چې دعوه يې د خپلواکې او بې پرې محکمې له خوا منصفانه او په علني توګه فيصله شي.»[۲۴] د دې اصولو پر بنسټ، هر کله چې قاضي د قضاوت په کار کې سياسي، ژبني، مذهبي او نورې خپلې شخصي او فردي تړلتياوې دخيلې کړي، د محکمو بې پرېوالی او استقلاليت نقض کيږي.

سره له دې، ترلاسه شوي معلومات ښيي چې د طالبانو محاکم په خپلو تصميم نيونو کې بې پرې او خپلواک نه دي، بلکې د نورو بنسټونو او له محاکمو بهر د نورو ځواکونو لاسوهنې او د نفوذ اعمال مني. لکه څنګه چې په ټولو ولايتونو کې واليان، امنيه قوماندانی، ولسوالان او د طالبانو نور سيمه ييز قوماندانان د محکمو د قضايي قرارونو او فيصلو پر ډول ټاکونکی او مهم نقش لري، او کولای شي د جزايي اجراآتو بهير بشپړ بدل کړي. لکه څنګه چې قاضيان مسلکي نه دي او د محکمو د بې‌پرېوالي د تضمين لپاره کوم قانون نشته؛ نو قاضيان نشي کولای د دعوې د اړخونو پر وړاندې بې پرې اوسي او خپل اتکلونه په خپلو قضايي پرېکړو کې دخيل نه کړي. په ځانګړې ډول، که د دعوا يو لوری ښځې يا د مخکني حکومت کارکوونکي وي.

> رواداري داسې قضيې هم مستندې کړې دي چې ښيي د طالبانو محکمې په هغو دعوو کې چې يو لوری يې د خپلو اړوندو کسانو څخه و، او يا هغه کسان چې اړيکې ورسره لري، په پلوی يې عمل کړی دی. حتا د هغو کسانو په اړه چې جرم يې ښکاره و خو د مخکنيو اړيکو لرلو له امله او يا له قضايي دستګاه څخه بهر د بانفوذو کسانو په اغېز يې د هغوی پر معافيت حکم کړی. بر عکس، د مخکني حکومت د کارکوونکو اړوند چې د پوليسو، د استخاراتو ادارې او يا نورو امنيتي او نظامي بنسټونو له خوا نيول شوي سخت چلند يې ورسره کړی او سخت مجازات يې ورته ټاکلي دي.

د ۲۰۲۳ کال د جنورې پر ۱۷مه نېټه په کندهار کې د ملکي ادارې يو تن کارکوونکی چې د طالبانو د يو سيمه ييز چارواکي خپلوان دی، د سل زره افغانی غلا او نامشروع جنسي اړيکې په تور د دُرو او بند په سزا محکوم شوی و؛ خو د دُرو د مجازاتو د تطبيق په صحنه کې دغه سيمه ييز چارواکی قاضيانو ته

۲۴ د ملګرو ملتونو سازمان عمومي ناسته، د بشر حقونو نړيواله اعلاميه، د ۱۹۴۸ کال تصوير شوې، ۱۲مه ماده.

زنګ وهي او تورن له هر ډول مجازات پرته ژر تر ژره خوشې کيږي. په غزني ولايت کې هم د طالبانو والي د دعوې د يو لوري د ملاتړ له امله د محکمې نهايي شوې پرېکړه و نه منله، او د تطبيق پر وړاندې يې خنډ شو او د امنيې قوماندانۍ له لارې يې د خپلې خوښې فيصله اجراء کړې. له دايکندي ولايت څخه سرچينو رواداري ته ويلي چې: «د دايکندي ولايت په خدير او سنګ تخت ولسواليو کې، د قاضي او ولسوال د کار دفتر يوځای دی او ډېری قضيې د ولسوال په خوښه حل و فصل کيږي، او قاضي ته نه پاتې کيږي.»

په هرات ولايت کې په يوه حقوقي قضيه کې قاضي د دعوې له يو لوري سره د نږدې اړيکې لرلو له امله تر اوسه درې ځلې مدعي د صورت دعوا په اصلاح کولو مجبور کړی؛ څکه د مدعي عليه دفع دعوا قوي او محکمه يې بايد په ګټه پرېکړه وکړي.

## جزايي او حقوقي قضيو ته په رسيدګۍ کې بې دليله ځنډ

د مدني او سياسي حقونو د نړيوال ميثاق ۹مه ماده ۳ بند په صراحت سره وايي: «هر څوک چې د يو جرم په تور ونيول شي يا بندي شي، ژر تر ژره د قاضي يا هر بل مقام چې د قضايي واکونو د پلي کولو صلاحيت او اجازه ولري پر وړاندې حاضريږي. تورن حق لري چې په معقوله موده کې محاکمه شي او يا خوشې شي. کلي قاعده بايد دا نه وي چې هغه کسان چې د محاکمې په انتظار وي په بند کې وخت تېر کړي، بلکې موقته آزادي يې په تضمينونو مشروطه شي، چې تورن کس د محکمې په ناسته او د قضايي رسېدنې ټولو مراحلو کې او له مورد سره سم د حکم د اجراء تامين وکړي.» [۲۵] د مدني او سياسي حقونو د نړيوال ميثاق د دې اصل پر خلاف، دا مهال په افغانستان کې د نظارت او توقيف هيڅ ټاکلې موده په عمل کې شتون نلري. عدلي او قضايي بنسټونه، په ځانګړي ډول د استخباراتو اداره کولای شي تر نامعلومې مودې پورې خلک توقيف کړي. داسې موارد هم شته چې متهم په مياشتو مياشتو په توقيف خونه کې تيروي او د خپلې محاکمې انتظار باسي. د حقوقي قضيو په برخه کې هم نه توجيه کېدونکی ځنډ شته او يو شمېر دا ډول قضيو ته تر يو کال پورې هم رسېدنه نه ده شوې. مثلاً په هرات ولايت کې يوه حقوقي دعوه چې د انجيل ولسوالی په ابتدائيه محکمه کې شوې وه، دا مهال چې يونيم کال پرې تيريږي رسيدګې نه ده ورته شوې او حتی د رسېدګی لپاره ورته اړوند برخه هم نه ده په ګوته شوې، په داسې حال کې چې د دعوې دواړه خواوې په هرات کې حاضرې دي.

## مدافع وکيل ته د لاسرسي نشتوالی

مدافع وکيل او حقوقي مساعد ته د مظنون او متهم لاسرسی د عادلانه محاکمې يو تر ټولو مهم اصل دی چې د مدني او سياسي حقونو د ميثاق ۱۴مې مادې ۳ فقره کې تضمين شوی دی.[۲۶] له مدافع وکيل څخه مرسته ترلاسه کول او له دې حق څخه د متهم خبرېدل، د متهم او مدافع وکيل تر منځ د مکالمو، مراسلاتو، او ليکونو د محرميت تضمين د مناسبې او کافي دفاع د حق ترلاسه کولو له شرايطو څخه دی. دا حق چې بايد د تحقيق په ټولو مرحلو او محاکمه کې رعايت شي، په واقعيت کې متهم ته دا امکان په لاس ورکوي چې له خپل حق څخه د دفاع لپاره له واک، آزادی او لازمو ابزارو څخه برخه من شي. سره له دې، د ترلاسه شويو شواهدو پر بنسټ، د طالبانو محکمې او قاضيان وکيل ته د لاسرسي حق ته اهميت نه ورکوي او حتا په يو شمېر ولايتونو کې قاضيان د قضايي اجراآتو د پروسې د يوې برخې په توګه ورسره نابلده دي. د بېلګې په توګه، له بغلان ولايت څخه يوې سرچينې رواداري ته ويلي چې په لومړيو کې د طالبانو قاضيانو پوښتنه کوله چې «مدافع وکيل څوک دی او څه کار کوي؟ کله چې ورته توضيحات ورکول کېدل ځواب به يې داو چې تاسو له مجرمينو او جنايتکارانو دفاع کوئ.»

له بل پلوه، طالبانو د مدافع وکيلانو خپلواکه ټولنه لغوه کړه او هم ډېری مدافع وکيلانو د سختو محدوديتونو وضعه کولو او امنيتي ستونزو له امله خپلې دندې پرېښې. لکه څنګه چې دا مهال په پنجشېر ولايت کې هيڅ مدافع وکيل نشته، په کندهار ولايت کې له ۱۵۰ مدافع وکيلانو يواځې ۱۵ تنه يې پاتې دي او په غزني ولايت کې چې ۱۹ ولسوالۍ لري يواځې ۵ مدافع وکيلان د ولايت په مرکز کې فعاليت کوي. هم مهاله، طالبانو د خپلې عدليې وزارت په تشکيلاتو کې د مدافع وکيلانو رياست تاسيس کړی او تر څنګ يې د حقوقي مساعدتونو برخه هم فعاله ده، خو په عمل کې حقوقي مساعدتونه نه وړاندې کوي او پاتې مدافع وکيلان هم چې د عدليې وزارت تر اغېز لاندې فعاليت کوي، خپله خپلواکي يې له لاسه ورکړې. په کندهار، پکتيکا، پکتيا، ميدان وردګ او خوست ولايتونو کې په سياسي جرمونو تورن کسان د مدافع وکيل درلودلو حق نه لري.

۲۵ د ملګرو ملتونو عمومي ناسته، د مدني او سياسي حقونو نړيوال ميثاق، د ۱۹۶۶ کال تصويب شوی، ۹مه ماده.

۲۶ د ملګرو ملتونو سازمان غونډه، د مدني او سياسي حقونو نړيوال ميثاق، د ۱۹۶۶ کال تصوير شوی، ۳مه ماده.

په يو شمېر ولايتونو کې د طالبانو محکمې او قاضيان په هيڅ قضيه کې مدافع وکيل نه مني او دا د قضا په کار کې له لاسوهنې سره سم گڼي. له دايکندي ولايت څخه يوې سرچينې رواداري ته ويلي، «قاضيان وايي، کله چې متهم کس خپله بالغ او عاقل وي مدافع وکيلان ولې د هغوی دفاع وکړي؟ پرېږدئ چې پخپله خپله دفاع وکړي، او د محکمې په کار کې مداخله مه کوئ.» په يو شمېر نورو ولايتونو کې مدافع وکيلان يوازې په حقوقي او مدني قضيو کې کولای شي د خپلو موکلينو دفاعيه ترتيب کړي او په قضايي ناستو کې د حضور حق نه لري. سربېره پر دې، د ترلاسه شويو اطلاعاتو پر بنسټ، طالبان د آزادۍ د سلب ځايونو ته د مدافع وکيلانو لاسرسي ته اجازه نه ورکوي، او له همدې امله هغوی نه د نظارت په مرحله کې او نه هم د توقيف په مرحله کې خپلو موکلينو ته لاسرسی لري.

## مدافع وکيلانو سره بد چلند

له ميدان وردگ څخه سرچينو رواداري ته ويلي چې قاضيان د مدافع وکيلانو دفاعيه د اسلامي ارزښتونو او موازينو خلاف گڼي او هغوی ته د کار اجازه نه ورکوي. ترلاسه شوي شواهد ښيي چې د طالبانو قاضيان او محکمې د مدافع وکيلانو کار د جنايتکارانو او مجرمينو ملاتړ گڼي او مدافع وکيلانو ته وايي «تاسو د مجرمينو او جنايتکارانو ملاتړ کوئ او دا کار مو د ديني او اسلامي ارزښتونو سره په ټکر کې دی.» يوې بلې سرچينې رواداري ته ويلي چې د طالبانو قاضيان او محکمې معمولاً د مخکني حکومت د اړوندو وکيلانو دفاعيې ردوي؛ که څه هم دفاعيه يې کومه ستونزه هم و نه لري. سره له دې، بد چلند ورسره کوي او وايي «تاسو په مخکنی اداره کې کار کړی او په فساد کې دخيل يئ».

په باميان ولايت کې طالبانو د جمهوريت د دورې يو شمېر وکيلان په مرگ تهديد کړي او د وکالت د جواز په لغوه کولو سره يې د هغوی دارالوکالې هم بندې کړې دي.

طالبانو په يو شمېر ولايتونو کې لکه بدخشان، کندهار، هلمند، زابل، ارزگان، جوزجان، فارياب، کندز، بلخ او هرات کې د ديني مدرسو له زده کوونکو څخه نوي مدافع وکيلان استخدام کړي، او له مخکنيو مدافع وکيلانو يې امتحان اخستی. د جمهوريت د دورې له مدافع وکيلانو څخه د امتحان اخستلو موخه پر لومړنيو ديني مسايلو د هغوی پوهه معلومول ؤ. له هلمند ولايت څخه يو مدافع وکيل رواداري ته ويلي چې طالبانو د جمهوريت د دورې د مدافع وکيلانو د کار جواز لغوه او له هغوی څخه يې امتحان واخيست. په دې امتحان کې د لمونځ او نورو اړوندو مسايلو په اړه پوښتنې وشوې چې يو شمېر مدافع وکيلانو له کامیابۍ وروسته بېرته د کار جوازونه ترلاسه کړل. له کندهار ولايت څخه يوې سرچينې معلومات ورکړي چې طالبانو په وروستيو کې نوي مدافع وکيلان استخدام کړي چې د ديني مدرسو فارغين دي او يو شمېر يې د قضاوت د کار سره هم مهاله د مدافع وکيل په توگه هم فعاليت کوي او له رسمياتو وروسته خپلو موکلينو ته دفاعيې ليکي. سربېره پر دې، په کندهار ولايت کې د ديني مدرسو زده کوونکي او د مسجدونو ملا امامان د متهمينو لپاره دفاعيې ليکي.

## پر پرېکړې او د حکم په صادرولو د حاکمو اصولو نقض

پر حکم او پريکړې باندې د ناظرو اصولو له مخې، قضايې جلسې د محدودو استثناءاتو پرته چې په قانون کې يې منع شوي وي، په نورو حالاتو کې بايد علني دايرې شي، تر څو خلک د عدالت د تأمين په اړه اطلاع ترلاسه کړي او پر قضايې دستگاه باندې باور وکړي. په غير علني توگه د قضايې جلسو تر سره کول په واقعيت کې د ناوړه گټې اخيستنې، فساد، بې باورۍ او د عادلانه محاکمې د موازينو څخه د سرغړونه باعث کيږي. له بل اړخه، هغه اقرار يا اعتراف چې د شکنجې، زور او اکراه په پايله کې ترلاسه شوي وي د هر ډول حقوقي اعتبار څخه بهر او محاکم نشي کولای د هغه په استناد حکم وکړي. نو له همدې امله، قضايي ناستې بايد په ښکاره جوړې شي او پرېکړې د قانوني مستنداتو په ذکر کولو، معتبرو دلايلو او د جرم د ارکانو په دقيق وضاحت سره اعلان او د عدالت د اصولو د اجرا په خاطر د هر ډول مخکني قضاوت او توپيري چلند څخه ډډه وشي. خو د رواداري موندنې ښيي چې د طالبانو قاضيان او محکمې د خپلو تصميمونو او پرېکړو په ترسره کولو کې خپلسری عمل کوي. د هيڅ ټاکل شويو اصولو او قواعدو پيروي نه کوي او ټولې قضايي ناستې په غير علني بڼه او حتی د مدافع وکيل له حضور پرته ترسره کوي. برعکس، د مجازاتو اجراء حتی په هغو مواردو کې چې قانوني ممانعت يې هم شوی، ښکاره ترسره کوي.

د طالبانو محکمې او قاضيان شکلي قواعد، د قضايي پرېکړو تشريفات او د حکم صدور هم نه رعايتوي او په ډېری مواردو کې په شفاهي بڼه هم حکم کوي او خپلې فيصلې نه ليکي.

### د غیر انساني او ظالمانه مجازاتو تطبیق

غیر قانوني او د انساني کرامت مخالف مجازات بل مورد دی چې طالبان یې پرله پسې د هیواد په بېلابېلو برخو کې مرتکب کیږي. د ترلاسه شویو معلوماتو پر بنسټ، ۱۰۹ تنه د طالبانو د حاکمیت په لومړیو ۱۲ میاشتو کې په صحرایي ډول محاکمه او مجازات شوي. یاد کسان له هیڅ ډل تحقیق او د صالحې محکمې پر وړاندې د تور له اثبات پرته محاکمه او مجازات شوي دي.[۲۷]

په کندهار ولایت کې د طالبانو محکمې هره ورځ تورن کسان په دُرو وهي او بیا یې زنداني کوي. لکه څنګه چې د ۲۰۲۱ اګست څخه د ۲۰۲۳ کال تر جون میاشتې پورې د طالبانو محکمو په سویل لویدیځه حوزه کې ۱۱۸ تنه په عام محضر کې په دُرو وهلي. البته دا ارقام یواځې هغه کسان رانغاړي چې مجازات یې علني تطبیق شوی. په یو مورد کې طالبانو یوه ۱۹ کلنه نجلۍ چې کوژده شوې وه د نامشروع جنسي اړیکې د لرلو په تور لومړی په دُرو ووهله او بیا یې د درې کلونو لپاره په مجازات محکومه کړه. په داسې حال کې چې پر قرباني د لګېدلي تور د اثبات لپاره هیڅ شواهد او اسناد نشته، او د قرباني نجلۍ پلار رواداري ته ویلي چې لور یې د نامشروع جنسي اړیکې نه بلکې ښوونځي ته د تلو له امله د طالبانو له خوا مجازات شوې ده. هغه د طالبانو دا اقدام غیر عادلانه بولي او اوسمهال په پټه او په انزوا کې ژوند کوي.

طالبانو تر اوسه نوي جزایي قوانین نه دي وضعه کړي، نو د محکمو پر اجراآتو یو ډول پراخه بې نظمي او هرج و مرج حاکم دی، او محکمې د متهم د مجازاتو د ټاکلو لپاره له بېلابېلو فقهي سرچینو ګټه پورته کوي. دا هغه چاره ده چې قاضیانو ته یې دا امکان برابر کړی چې قضیې له خپلې خوښې سره سمې حل و فصل کړي. پر همدې بنسټ، ډېری مجازات چې د طالبانو محکمې یې تطبیقوي، د بشر حقونو په نړیوالو اسنادو کې منعه شوي دي.
عبدالمالک حقاني د طالبانو د محکمو د عالي اداري مرستیال ویلي چې د دوی محکمو تر اوسه ۱۷۵ د قصاص حکمونه، ۳۷ د سنګسار حکمونه، ۴ حکمونه تر دېوال لاندې کول او ۱۰۳ نور د حدودو مجازات حکمونه صادر کړي دي. په داسې شرایطو کې چې د محکمو د اجراآتو د څارنې او د قاضیانو له خوا د فساد ترسره کولو د مخنیوي لپاره هیڅ ډول قانوني میکانیزم نشته او هم د طالبانو قاضیان لکه مخکې چې وویل شول مسلکي نه دي. د دا ډول مجازاتو تطبیق کولای شي د انساني کرامت او ظالمانه مجازاتو مصداق اوسي.

| ۱۷۵ | ۳۷ | ۴ | ۱۰۳ |
| --- | --- | --- | --- |
| د قصاص حکمونه | د سنګسار حکمونه | حکمونه تر دېوال لاندې | نور د حدودو مجازات حکمونه |

۲۷ رواداری، «څپل او شاتګ»، ۲۲۰۲. لینک: https://rawadari.org/10122022776.htm/

# ۴

# پـــایله

په عدلي او قضايي نظام کې عدالت ته لاسرسی چې د دندو د تنظیم او د صلاحیتونو د ټاکلو لپاره هیڅ قانون او مقررات نه وي، سخته څه چې ناممکنه چاره ده. د طالبانو په محکمو کې د بنسټي او فردي استقلالیت نشتوالی، جزایي او حقوقي قضیو ته په رسېدنه کې د غیر مسئولو بنسټونو مداخله، له زندانیانو سره بد چلند او شکنجه کول، خپلسري او غیرقانوني توقیفونه او د عادلانه محاکمې د موازینو د التزام نشتوالی، چې په مفصله بڼه د دې راپور په بېلابېلو برخو کې وضاحت ورکړل شو، په واقعیت کې د طالبانو پر عدلي او قضايي بنسټونو د هیوادوالو د باور په کموالي او دعوو ته د رسېدنې لپاره غیر رسمي میکانیزمونو ته د مراجعې د زیاتوالي تر ټولو مهم اغېز لرونکي عوامل دي. په دې منځ کې، د افغانستان ښځې په ځانګړې ډول د تاوتریخوالي قرباني ښځې له دوه برابره ننګونو او سختو محدودیتونو سره مخامخې دي.

دا مهال چې په افغانستان کې د طالبانو د حکومت نږدې دوه کاله تیریږي، د دولتي سازمانونو د اړوند چارو د تنظیم لپاره حتی یو قانون هم نه دی وضعه شوی، او د هیوادوالو د اساسي حقونو او آزادیو د تضمین لپاره هیڅ تقنیني اقدام نه دی ترسره شوی. د همدې له مخې، د طالبانو په ټول حکومت او په ځانګړې ډول په عدلي او قضايي نظام کې پراخه ګډوډې حاکمه ده. ځکه چې قانون او مقررات نشته او د افغانستان د خلکو بنسټیزې آزادۍ هره ورځ لا محدودیږي. ځکه طالبانو ته منسوب یو عادي تن کولی شي په غیر قانوني او خپلسري ډول خلک ونیسي، شکنجه او بندیان یې کړي.
د طالبانو تر کنټرول لاندې د آزادۍ د سلب ځایونو ته د لاسرسي نشتوالی او د شخصي زندانونو موجودیت نور مهم موارد دي چې جدي اندېښنې یې رامنځته کړې دي. هیڅ څوک او هیڅ حقوق بشري بنسټ په منظم ډول د طالبانو زندانونو ته لاسرسی نه لري، او په سمه توګه نه پوهیږي چې پر زندانیانو څه تیریږي.

له بل پلوه، په اوس وخت کې د عدلي او قضايي بنسټونو پر کار د څار هیڅ اغېزناک او ځواب ویونکی میکانیزم نشته، چې د فساد د پراختیا، ناوړه ګټې اخستنې او د هیوادوالو د اساسي حقونو د نقض لامل شوی دي.

## وړانديزونه

رواداري د طالبانو په عدلي او قضايي نظام کې شته ننګونو او ګډوډيو ته په پام سره او عدالت ته د هيوادوالو د لاسرسي د ښه والي، د عادلانه محاکمې د موازينو رعايت او د زندانيانو د بشري حقونو درناوي په موخه، لاندې موارد نړيوالې ټولنې، حاکمو چارواکو، د بشر حقونو نړيوال سازمانونو، مدني فعالانو او رسنيو ته وړانديزوي:

### الف- نړيوالې ټولنې ته

- د افغانستان د خلکو د آزادۍ او شخصي امنيت ته د درناوي په موخه او هم عدالت ته د لاسرسي او د عدلي او قضايي ارګانونو د وضعيت د ښه والي په پار، له نړيوالې ټولنې غواړو چې د قانوني ابزارو او لارو په کارونې سره پر طالبانو لازم فشارونه وارد کړي ترڅو مخکني جزايي قوانين پلي او اجراء کړي.
- د ملګرو ملتونو له سازمان څخه غواړو چې د طالبانو تر کنترول لاندې د آزادۍ د سلب ځايونو څخه منظمه څارنه وکړي، همدارنګه د شخصي زندانونو، د شکنجې د قضيو او د طالبانو د زندانونو د وضعيت په برخه کې، د يوې هر اړخيزې څېړنې اقدام وکړي، او خپلې موندنې له خلکو، رسنيو او د بشر حقونو له سازمانونو سره شريکې کړي.
- له نړيوالې ټولنې غواړو، چې په افغانستان کې د فعالو غير دولتي بنسټونو له لارې د مدافع وکيلانو په ځانګړې توګه د ښځينه مدافع وکيلانو څخه ملاتړ وکړي او هغوی ته د خوندي او اغيزمن فعاليت زمينه برابره کړي

### ب- حاکمو مقاماتو ته

- له حاکمو مقاماتو غواړو چې د بشر حقونو د ارزښتونو او موازينو د درناوي لپاره پر خپلو قانوني ژمنو عمل وکړي او د عادلانه محاکمې د موازينو له نقضولو څخه ډډه وکړي.
- له حاکمو مقاماتو غواړو چې د شخصي زندانونو د فوري تړلو لپاره او د خپلسري او غير قانوني توقيف څخه د خلاصون حق د تضمين په موخه عملي اقدامات ترسره کړي. د شکنجې او زندانيانو سره د بد چلند په اړه څېړنه وکړي او مسؤل کسان ځواب ويونکي شي.
- په عدلي او قضايي نظام کې د ښځو او لړکيو په وړاندې سيستماتيک توپيري چلند ته بايد د پای ټکی کيښودل شي. حاکم مقامات عدالت ته د ښځو د لاسرسي د ښه والي په موخه په عدلي او قضايي نظام کې ښځو ته د کار کولو زميني برابرولو ترڅنګ، عدالت ته د هغوی د لاسرسي لپاره ملاتړيزې لازمې آسانتياوې رامنځته کړي.
- همدا راز، له حاکمو مقاماتو غواړو چې د خپلو زندانونو او بنديخانو د څارنې لپاره د بشري حقونو سازمانونو ته د نظارت آزادانه زمينه برابره کړي.

### ج- بين المللي سازمانونو، مدني فعالانو او رسنيو ته

- په افغانستان کې د بشر حقونو ناوړه وضعيت ته رسېدنه د بشر حقونو د نړيوال سازمانونو دوامدارې پاملرنې او عدالت غوښتنې ته اړتيا لري. له همدې امله، د افغانستان د بشري حقونو د وضعيت څخه د څارنې او راپور ورکولو لپاره کافي سرچينې بايد ځانګړې شي.
- ګټوره او اغېزناکه عدالت غوښتنه ګډې، همغږې او هم لورې هڅې غواړي؛ پر همدې بنسټ د بشر حقونو له ټولو مدافعو سازمانونو او رسنيو څخه غواړو چې له ټولو امکاناتو، فرصتونو او قانوني ابزارو څخه په ګټې اخستنې د بشر حقونو د سرغړونې په برخه کې ځواب ويلو ته د طالبانو د اړيستلو لپاره کار وکړي.
- ټولو محترمو رسنيو ته بلنه ورکوو چې په افغانستان کې د بشر حقونو د نقض د پېښو په مستندولو او انعکاس ورکولو کې له نورو سازمانونو او د بشر حقونو مدافعانو سره همکاري وکړي، او په دې لاره کې اغېزناکه او فعاله برخه واخلي..

ماخذونه


- د ملګرو ملتونو سازمان عمومي ناسته، د مدني او سياسي حقونو بين المللي ميثاق، د ۱۹٦٦ کال د ډسامبر پر ١٦ مه تصويب شوی.
- د ملګرو ملتونو سازمان عمومي ناسته، د شکنجې او نورو بې رحمانه، غي انساني او سپکوونکو چلندونو او مجازاتو د مخنيوي ميثاق، د ۱۹۸٤ د ډسامبر پر ۱۰مه تصويب شوی.
- د ملګرو ملتونو عمومي ناسته، د بشر حقونو نړيواله اعلاميه، د ۱۹۸٤ کال د ډسامبر پر ۱۰مه تصويب شوې.
- رواداري، تحقيقي رپوټ «عقب ګرد و سرکوب»، ۲۰۲۲ کال.
- رواداري، په افغانستان کې د خپلسرو او غير قانوني نيونو په اړه تحقيقي رپوټ، ۲۰۲۳ کال.
- د طالبانو اسلامي امارت، د محکمو لايحه، د ۲۰۱۸ کال تصويب شوې.
- د لويې څارنوالی د دارالانشاء رياست، څوارلسم متحدالمال، د ۲۰۲۳ کال د مارچ ۲۲مه.
- د سويل لويديځې حوزې د محکمې رياست، ۱۱۹۱ شمېره مکتوب، د ۲۰۲۳ کال د جنوری ۴۲مه.

رواداری
RAWADARI

www.rawadari.org